# د بنو جرګه او د پښتنو د مستقل دولت تجويز
# اسلامي ډيموکراسي، قانون او پښتونواله

د طلوع په تېرو شمارو کي به مو لوستي وي، چي د برتانياى کبير دولت د هندوستان آزادي ومنله، او اوس هغه ښه ورځ رانږدې سوې ده، چي عنقريب به زموږ هندي ورونه د استعمار له کلکي چمبې څخه آزاد سي.

ما په يوه تېره مقاله کي ليکلي وه، چي زموږ د افغانستان د پښتنو افکار او آمال څه دي؟ موږ څه غواړو؟ او د هندوستان د ملت آزادي زموږ د خوښۍ باعث ده او د هندوستان او پاکستان دواړو لپاره د شرقيت او نږدې همسايګۍ له امله آزاد ژوند او سعادت او ترقي غواړو، مګر هغه خبره چي د افغانستان پښتانه يې مشوش کړي وه، د صوبهٔ سرحد او بلوچستان د پښتنو ورونو مقدرات وه، چي دوی هم بايد خپل د آزادۍ مشروع حقوق موندلي وای، برتانوي حکومت داسي ويلي وه، چي له دوی څخه به رأيه اخلي چي په پاکستان کي داخلېږي که په هندوستان کي؟

دا فيصله قناعت بخشه نه ده، او د صوبهٔ سرحد او بلوچستان پښتانه چي له چتراله او د کشمير له څنډو تر درهٔ بولان، کوټې، پښين او ږوبه د افغانستان په سرحداتو پوري متصل پراته دي، له ملي وحدته محروم کوي او د دوی د بېل مليت او قوميت مثبت حقوق ور پايماله کوي.

د برتانياى عظمى په فيصله کي د صوبهٔ سرحد پښتانه بېل او د بلوچستان دا بېل سوي دي، حال دا چي دا ګرده پښتانه دي او کورټې د دوی مقدرات نه سي سره بېلېدلای. د يوه دولت او يوه مليت او قوميت Nationality د تشکيل لپاره له حقوقي پلوه هم ځيني عناصر او اساسونه په کار دي، چي په هغو کي ژبه، نژاد، جعرافي ماحول، د تاريخ او عنعناتو اشتراک، دين، مذهب ټول د مليت د تشکيل مهم عناصر دي او موږ چي اوس ګورو د پښتنو دغه ټول شيان سره مشترک دي او د هند له نورو ملتو څخه په کلتور او ثقافت او ژبه او نورو مميزاتو کي بېل دي.

د هغو پښتنو تاريخ مشترک دئ، ژبه يې يوه ده، د ملت مميزات چي موږ يې (پښتونواله) بولو د پښتنو يو مشترک او مشاع ناموس دئ، نو دوی کورټې له نورو اقوامو سره مليت نه سي تشکيلولای، خپل خاص تهذيب او عنعنات لري.

کوم خصوصيت چي د صوبهٔ سرحد پښتانه يې لري، د بلوچستان پښتانه يې هم لري، د ږوب، کاکړستان او پښين او بولان خلک د پېښور او مردان او بنو له خلکو سره کوم تفاوت په ژبه، ثقافت، دود او عنعناتو او تاريخ کي نه لري، دوی يو ملت ګڼل کېږي او هر وخت به د يوه ملت تر عنوان لاندي شمېرل کېږي.

نو له دغو جهاتو موږ د صوبهٔ سرحد او بلوچستان ټول پښتانه د آزادۍ مستحق ګڼو او ښايي چي له دوی سره د هند د نورو اقوامو په توګه رفتار وسي.

دا خبره يوازي موږ نه کوو، بلکي د دنيا پوهان او پخپله د هندوستان لوی مشران يې هم مني، څو ورځي دمخه د هندوستان لوی آزاديخواه مشر او د هند د احرارو پلار مستر ګاندهي وويله، چي د پښتنو ژبه او تهذيب جلا دي موږ د هند په اقوامو کي دوی د جلا کلتور خاوندان ګڼو.

ښه! چي خبره داسي ده او پښتانه يو بېل قوم دئ، نو به ولي دوی وحدت نه لري؟ ولي به د نورو قيادت ته خاضع وي؟ ولي به د آزادۍ په دغه ښکلې دنيا کي بيا د نورو تابعيت مني؟ ولي به پخپله د خپل واک خاوندان نه وي؟ ولي به

دوی یو متحد ملیت نه تشکیلوي؟ ولي به ضرور په هندوستان یا پاکستان پوري نښلي؟

اوس داسي زمانه نه ده، چي سړی دي حق نه سي ویلای، اوس داسي زمانه نه ده چي یو قوم پر بل قوم په زور او جبر حکمداري وکړي نو به زموږ هندوستاني یا پاکستاني وروڼه ولي داسي کوي، چي د پښتنو حقوق حقه به غصب کوي؟

دا سوالونه د هند د مسئلې په فیصله کي د پښتنو له پلوه هر وخت وارد دي، او د ټولو پښتنو دا خواهش دئ، چي د ماورای سرحد پښتانه دي آزاد او یو وي، خپل مقدرات دي پخپله فیصله کړي. که له دوی څخه رأیه غوښتله کېږي دا رأیي به هم د دیموکراسۍ پر اصولو برابري او آزادي وي، دوی به اختیار لري چي په دې څلورو خبرو کي کومه خوا غوره کوي:

آزاد ژوند او مستقل دولت جوړوي؟

په نورو پښتنو ګډېږي؟

په هندوستان ګډېږي؟

که په پاکستان؟

که دغسي ډول آزاده رأیه واخیستله سي، او دا کار هم د مربوطو او علاقمندو دولتونو تر نظر لاندي د ډیموکراسۍ پر اساس اجراء سي، ښایي چي د ماورای سرحد د پښتنو حقیقي آمال به معلوم سي او که رأیه یوازي په هندوستان یا پاکستان کي مقیده وي دا یو نوع اسارت دئ او پښتون یې نه سي قبلولای.

تر اوسه لا د رأیي اخیستلو وخت نه دئ راغلی، او ښایي چي دولت برتانیا به په دغو خبرو کي غور وکړي او د ډیموکراسۍ اصولو ته به صدمه ونه رسوي او ځکه چي د افغانستان پښتنو د خپلو سرحدي وروڼو سره دمخه د سیاسي خطوطو له امله تماس نه درلود، او بالعکس د هند سیاسي ډلو په کلو کلو هلته کار کړی دئ، نو ښایي چي د افغانستان پښتنو ته د هغو خپلو وروڼو سره د جرګې موقع ورکړه سي، چي له هغو سره خبري اتري د پښتونوالي پر دود وسي او ځکه چي د پښتنو جرګې هم د دوی قدیم دیموکراسي روح ښکاره کوي، یقین دئ چي د اوسنۍ دنیا په ګټه به تمامي سي او حقایق به پکښې ثرګند سي.

د ډیورنډ د فرضي خط د هغي خوا پښتنو په خصوص کي د افغانستان د خلکو نیت او آرزوګاني دغه وې، چي ما لوړي لنډي ولیکلې، د یوه ورور پر بل ورور ښه پېرزو وي، ځکه چي پښتانه ټول سره وروڼه او یو وجود دي، نو زموږ پر دوی ښه پېرزو ده او د دوی به هم پر موږ ښه پېرزو وي.

د هند سیاسي احزاب او آزادیخواهان چي د ځانو لپاره ښه ژوند او استقلال غواړي، نو دوی به څنګه یو بل ملت تر خپل اقتدار لاندي اسیر پرېږدي؟ که د دنیا موجوده د ډیموکراسۍ اصول او د بشریت د آزادۍ مقدس مبادي د هند کوچني او لوی اقوام آزادوي، نو پښتانه به څنګه له دې موهوبي فیضه محروم وي؟ حال دا چي پښتانه له قدیمه آزاد او طبعاً د ډیموکراسي روح خاوندان دي، د دوی قومي جرګې له قدیمه ټول مسایل د آزادۍ او ډیموکراسۍ پر اصولو فیصله کوي او جرګې یعني د مشورې مجلس او اولسي پارلمان له قدیمه د پښتنو په ژوندانه کي خورا اهمیت درلود. نو یو داسي آزادیخواه او ډیموکراسي مشربه قوم څنګه کولای سي، چي د آزادۍ په عصر کي بیا هم د نورو اقوامو تسلط پر ځان ومني؟

دا زما خپلي تخیلي او ایډیالي او تشي خبري نه دي، بلکي د پښتنو د آزاد روح او ډیموکراسي مشرب مظاهر په تاریخ کي هم ښکاره دي، او اوس یې هم زمانه د خپلو ایامو پر روښانه مخ راښیي.

## د بنو جرګه:

د دولت برتانیا تجویز خو دا و، چې له سرحدي پښتنو څخه د هندوستان او پاکستان رأیه وغواړي، مګر تر هغه دمخه د هغي خوا پښتنو خپل ملي جبروت او د آزادیخواهۍ تجلی ښکاره کړه، وړمه ورځ د صوبۀ سرحد د پښتنو او خدایي خدمتګارانو او خاکسارانو د احزابو رهنمایان او ډېر نور د پښتنو مشران چې تقریباً پنځه سوه تنه کېده، په بنو کي د خان عبدالغفار خان او نورو ملي مشرانو سره راټول سول، لکه پرون چې د هند راډیو وویل، دې ملي جرګې یوه خورا مهمه فیصله کړېده، چې زموږ د افغانستان د پښتنو لپاره هم د خورا خوښۍ او مسرت وړ ده. دا ملي فیصله چې د پښتنو یوې جرګې وکړه، د پښتنو د آزادي خواهۍ او ډیموکراسۍ روح دنیا ته ښیي، دا فیصله پښتون قوم وحدت ته رابولي، دا فیصله د ایشیا په تاریخ او د پښتنو په تاریخ کي خورا اهمیت لري.

د بنو لویي جرګې خپله غوره او تاریخي فیصله داسي اعلان کړېده:

## مستقل پټانستان:

پښتانه نه غواړي چې په پاکستان یا هندوستان پوري مربوط سي، بلکي دوی غواړي یو مستقل پټانستان تشکیل کړي او ټول پښتانه چې د افغانستان له سرحداتو هغي خوا ته تر اباسینده پراته دي په پټانستان کي شامل سي.

دا خبره ډېره د خوښۍ وړ ده، چې زموږ پښتانه سرحدي ورونه یعني خدایي خدمتګاران له کانګرسه رابېل سول، او دوی خپل مستقل حیثیت وپېژاند، چې باید یو مستقل حکومت ولري او ځانله ملیت تشکیل کړي او د دنیا په اقوامو کي یو آزاد حقوقي شخصیت لاس ته راولي.

مستقل پټانستان پښتانه سره یو کوي او ښایي چې د بلوچستان پښتانه یعني د درۀ بولان او پښین او کاکړستان او نورو ځایو پښتانه چې تر برتانوي سلطې لاندي وه هم ورسره ونښلي او د آزادۍ حقوق ومومي.

## اسلامي دیموکراسي او پښتونواله:

د پټانستان غوښتونکو او د بنو جرګې اعضاوو پخپله فیصله کي دا هم ښکاره کړېده، چې پټانستان به پر اسلامي او دیموکراسي اساس برابر اداره کېږي، او د پښتونوالي دودونه او قوانین به پکښې جاري وي، یعني د پټانستان خلق به د اسلام د مقدس شریعت پر اساس ژوند کوي، او د اوسنۍ دنیا سره به هم سم وي، او خپل ملیت به هم له لاسه نه ورکوي. نو دا درې شیان چې (دین، عصریت، ملت) دي په دوی کي به محفوظ وي.

دا فیصله هم ډېره ښه ښکاري، او امید سته چې د پټانستان پښتانه به سعادت او لوړتیا ته ورسوي، موږ د افغانستان پښتانه د دوی دا مفیده فیصله په خوښۍ منو او د دوی سعادت او ترقي له خدایه غواړو.

## مسلم لیګي پښتانه څه کوي؟

دا مبارکه فیصله چې د یوه ملت حیات اعلانوي، د خدایي خدمتګارانو یعني هغو پښتنو له خوا اعلان سوه، کوم چې دوی پخوا د هند له کانګرسه سره رابطه درلوده، مګر هغه پښتانه چې په مسلم لیګ پوري تړلي وه نه ده معلومه چې څه کوي؟ دلته باید د افغانستان د پښتنو له خوا و دوی ته ووایم، لکه کانګرسي پښتانه چې له کانګرسه منفک سول او د ځان

لپاره مستقل ژوند غواړي، ښايي چي مسلم ليګي پښتانه ورونه هم له دوی سره متفق سي او د پټانستان د استقلال حمايت وکړي. ځکه چي دوی هم پښتانه دي او د دوی مستقل ژوند تر هر څه ښه دئ.

دا وه زموږ پښتنو آمال چي د خپلو پټانستاني پښتنو د ژوندانه او استقلال او تماميت لپاره يې لرو، ښايي چي دا زموږ ملي آمال دولت برتانيا او د هند د سياسي احزابو مشران په غور ولولي، او د پښتنو د آينده سعادت او هم د ايشيا د روغي او سلامتيا لپاره د پښتنو استقلال او آزادي ومني. زه به وقايع تعقيبوم په آينده کي به بيا خپلو محترمو ويونکو ته د آينده وقايعو اجمال عرض کړم.

طلوع افغان، ۱۳۲۶ ش، ۸۰ ګڼه، لومړي مخ.